# لومړی هغه څه چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم - ته پرې له وحی پیل وشو؛ ریښتیني خوبونه وو

له ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې: لومړی هغه څه چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم - ته پرې له وحی پیل وشو؛ ریښتیني خوبونه وو نو هېڅ خوب به یې نه لیده مګر دا چې د روڼ سهار په څېر به واقع کېده، بیا یې ګوښه والي ته لیوالتیا پیدا شوه، نو د حراء په غار کې به د عبادت په موخه ګوښه کېده او د شمار شپې به یې عبادت کاوه مخکې لدې چې خپلې کورنۍ ته راشي، نو د دې کار لپاره به یې توښه برابروله، بیا به خدیجې ته راته او د هغې په څېر به یې توښه برابره کړه، تر دې چې حق (جبرائيل - عليه السلام-) ورته راغی، پداسې حال کې چې هغه د حرا په غار کې و، نو ملایکه ورته راغله او ورته یې وویل: « ولوله، هغه وویل: زه لوستونکی نه یم، وایې: زه یې راونیولم او زور یې راکړ تر دې چې ساه مې تنګه شوه، بیا یې خوشې کړم، راته یې وویل: ولوله، ما وویل: زه لوستونکی نه یم، نو راویې نیولم، په دویم ځل یې زور راکړ تر دې چې ساه مې تنګه شوه، بیا یې خوشې کړم، راته یې وویل: ولوله، ما وویل: زه لوستونکی نه یم، نو راویې نیولم، او د دریم ځل لپاره یې زور راکړ، بیا یې خوشې کړم، راته یې وویل: {اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمِ} [العلق:1-3] ، ژباړه: ولوله په نوم د رب خپل؛ هغه ذات چې پیدا کړی یې دی، پیدا کړی یې دی انسان له پنډې شوې وینې څخه، ولوله او ستا رب د عزت خاوند دی» نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې آیتونو سره خدیجې رضي الله عنها ته راغی پداسې حال کې چې زړه یې لړزیده، او ویې ویل: «زَمِّلُونِي، زَمِّلُونِي» یعنې په کالیو کې مې تاو کړئ، هغوی تاو کړ، تر دې چې وېره ترې لاړه، نو خدیجې ته یې کیسه وکړه او ویې ویل: «په رښتیا چې په خپل ځان وویریدم» خدیجې وویل: داسې نه ده، قسم په الله چې الله به دې هېڅکله ذلیل نه کړي، ځکه ته خپلوي پالې، د اړمنو لاسنیوی کوې، ګټوره سوداګري کوې او نورو سره مرسته کوې، میلمه پالې، او په حقه د اړمنو مرسته او ملاتړ کوې، نو خدیجې خپل د تره زوی ورقه بن نوفل بن اسد بن عبد العزا ته وروست چې نصراني و او د جاهلیت پر مهال نصراني شوی و، په عبراني ژبه یې لیکل کولی شو، او د انجیل نه به یې په عبراني ژبه لیکل کولی څومره چې الله تعالی وسه ورکړې وه، حال دا چې هغه یو عمر خوړلی انسان و او ړوند شوی و، نو خدیجې ورته وویل: اې د کاکا زویه، له خپل وراره څخه دې واوره، نو ورقه ورته وویل: وراره څه وینې، یعنې څه دې لیدلي دي؟ نو رسول صلى الله عليه وسلم پر هغه څه خبر کړ چې لیدلي یې و، ورقه ورته وویل: دا هغه ناموس (راز دار) دی چې الله تعالی پر موسی علیه السلام نازل کړی و، کاش زه هغه مهال ځوان وای (چې ستا ملاتړ او مرسته مې کړې وی)، کاش زه هغه مهال ژوندی وای چې قوم دې تا ( له وطنه ) وباسي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «ایا هغوی به ما وباسي؟» هغه وویل: هو، هر چا چې ستا غوندې څه راوړي، له هغه سره دښمني شوې، که هغه ورځ زه وم نو ټینګه مرسته به دې کوم، بیا ورقه یو څه وخت ژوندی و، بیا مړ شو، او وحې د څه وخت لپاره بنده شوه.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

عائشه رضي الله عنها وایي چې لومړی هغه څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پرې وحی پیل شوه؛ هغه ریښتیني خوبونه و چې په خوب کې به یې لیدل، نو هېڅ خوب به یې نه لیده مګر دا چې د روڼ سهار په څېر به ریښتیا کېدل، بیا ګوښه والي ته لیواله شو، چې د حرا په غار کې به ګوښه کېده، نو مخکې لدې چې خپلې کورنۍ ته راشي هلته به یې په شمار شپې عبادت کاوه، او د ځان سره به یې توښه وړله، بیا به ام المؤمنین خدیجې رضي الله عنها ته ورګرځیده نو د شپو د شمار په کچه به یې توخه وړله، تر دې چې حقه چاره ورته په داسې حال کې راغله چې دی د حراء په غار کې و. نو جبرائيل علیه السلام ورته راغی او ورته یې وویل: ولوله، هغه صلى الله عليه وسلم وفرمایل:

زه لوستل نه شم کولی، فرمايي: راويې نيولم ځانته يې جوښت کړم او زور يې راکړ، تر دې چې زور او سختي راباندې راغله، بيا يې خوشې کړم او ويې ويل: ولوله: ما وويل: لوستل نه شم کولی، نو په دويم ځل يې زور راکړ تر دې چې سختي راباندې راغله بيا يې خوشې کړم راته يې وويل: ولوله، ما وويل: لوستل نه شم کولی، نو راويې نيولم او په دريم ځل يې زور راکړ راته يې وويل: {اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ} [العلق: 1-3]. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې آيتونو سره خپلې مېرمنې ام المؤمنين خديجې رضي الله عنها ته په داسې حال کې ورغی چې زړه يې د مرګ له وېرې درزېده او ويې فرمايل: په جامو کې مې ونغاړئ، په جامو کې مې ونغاړئ، هغوی په جامو کې ونغاړه تر دې چې وېره ترې لاړه، نو خديجې ته يې وويل، خبره يې کړه او ويې فرمايل: پر ځان له مرګ څخه ووېرېدم، نو خديجې ورته وويل: داسې نه ده، قسم په الله چې الله به دې هېڅکله ذليل نه کړي، ته هغه څوک يې چې خپلوي پالې، هغه کمزوري پالې چې خپلې چارې مخته وړلای نه شي، هغه فقير ته خېر رسوې چې هېڅ نه لري، خلکو ته هغه څه ورکوې چې له نورو سره يې نه شي موندلای، ميلمه پالې او د حق په چارو کې مرسته کوې. نو خديجې ورقه بن نوفل بن اسد بن عبد العزى ته ورووست چې هغه يې د تره زوی و، دی هغه سړی و چې جاهليت يې پرېښی و او نصراني شوی و، له انجيل څخه به يې په عبراني هغه څه ليکل چې الله يې وسه ورکړې وه، حال دا چې عمر خوړلی و او ليد يې له لاسه ورکړی و، نو خديجې ورته وويل: ای د کاکا زويه، له خپل وراره څخه دې واوره، ورقه ورته وويل: ای وراره، څه ګورې (څه دې ليدلي)؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغه څه خبر کړ چې ليدلي يې وو، ورقه ورته وويل: دا جبرائيل دی، هغه چې الله پر موسى عليه السلام نازل کړی و، کاش زه دا مهال ځوان وای، کاش زه هغه مهال ژوندی يم چې قوم دې تا وباسي، هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا هغوی به ما وباسي؟! هغه وويل: هو، هېڅ ستا په څېر يو څه نه دي راوړي مګر دا چې زيانمن شوی او دښمني ورسره شوې ده، او که چېرته په هغه ورځ زه ژوندی وم، نو کلکه مرسته به دې وکړم. بيا يو څه وروسته ورقه مړ شو، او وحی د يو څه وخت لپاره وځنډېده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66303

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee